safar

# په رڼا کې تګ

## خدای ته نږدې پاتې کېدل

### د پیل ټکی

د اړیکو د خرابېدو لامل څه شی دی؟
څه شی ماتې شوې اړیکې بیا رغوي؟

### بحث او خبرې

مونږ ټول تېروتنه کوو. څه شی چې باید ونه ویل شي، هغه وایو. هغه کار چې باید ونه شي، هغه سرته رسوو. پر یو شي چې باید فکر ونه کړو، فکر کوو.
ځیني وخت هغه کار چې باید سرته ورسوو، هغه نه تر سره کوو! اوپه دې کارونو، د خدای او خلکو په وړاني ګناه کوو.

- کله چې پوهېږئ د چا په وړاندې مو ګناه کړې ده، ستاسو چلند د دې پېښې په تړاو څنګه دی؟
- کله چې غواړئ خپله تېروتنه جبران کړئ، په دې برخه کې ستونزمن کار ستاسو د پاره څه شی دی؟
- ستاسو چلند په دې هکله مات شوی دی او په اړیکې کې مو له خدای سره کومه اغېزه کړې ده؟

### په کلام باندې تعمق او غور

اول یوحنا ۱: ۵-۱۰ په ګډه ولولئ.

- خدای په دې ایتونو کې څنګه ستایل شوی دی؟
- په رڼا کې ګام پورته کول څه ګټه لري؟
- دا چې دعوه کوو هېڅ ګناه مو نه ده کړې، څه پایلې زمونږ دپاره لري؟ کله چې مونږ دعوه کوو چې بې ګناه یوو، چا ته زیان رسیږي؟
- څنګه کولای شو چې د رڼا په لاره کې پاتې شو او په تیاره کې ګام پورته نه کړو؟
- په ۹ ایت کې کومه ژمنه ګورو؟

### اصلي مفکوره

کومه تېروتنه چې مو کړې ده، هغې ته پام ونه کړو او د جبرانولو دپاره یې لاس په کار نه شو، دا به د خدای او نورو سره زمونږ د اړیکو په نژدېوالي باندې اغېزه وکړي.
له نیکه مرغه، د خدای لویه ژمنه دا ده چې د صداقت او اقرار او توبې له لارې کولای شو له هغه سره په نژدې ګډون کې پاتې شو او دا هغه کار نه دی چې یوازې یو وار یې سرته ورسوو، بلکې دا زمونږ د ژوند لاره ده چې کوښښ وکړو په دوامداره توګه د خپل زړه ازمایلو په خپلو تېروتنو او نیمګړتیاوو باندې اعتراف وکړو او د خدای په نور او دهغه سره په ګډون کې پاتې شو.

### همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

**د دې دریو ساده ګامونو له لارې لاړ شئ ترڅو په رڼا کې او د خدای او نورو سره په نږدې ملګرتیا کې پاتې شئ:**
**له خدایه وغواړئ چې ستاسو زړه معاینه کړي، په خپلو ګناهونو اعتراف وکړئ او په مسیح کې خپل هویت په یاد ولرئ.**

1. **له خدایه وغواړئ چې ستاسو زړه معاینه کړي**

زبور ۱۳۹: ۲۳-۲۴ وایي: "خدایه زما زړه وازمویه او زما زړه وپیژنه، ما وازمایه او زما په اندېښنو پوه شه. وګوره چې په ما کې د غم لاره شته، نو تلپاتې لارې ته مې لارښوونه وکړه."

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

داود له خدایه وغوښتل چې هغه معاینه کړي، یو د هغه دلیلونو نه دا دی چې مونږ ته روښانه نه ده چې له مونږ ګناه شوې. په دې خاطر ډېره مهمه خبره دا ده چې د داود د مثال څخه پیروي وکړو. د دې ایت په کارولو سره دعا وکړئ او له خدایه وغواړئ د هغې برخې ژوندانه سره چې باید مقابله وکړئ، تاسو ته ښکاره کړي.
تیار اوسئ ترڅو کوم شیان چې خدای تاسو ته ښیي، د یو بل سره یې شریک کړئ.

1. **په خپلو ګناهونو باندې اعتراف وکړئ**

اول یوحنا ۱: ۹ وایي: : "که په خپله ګناه باندې اعتراف وکړو، هغه چې امین او عادل دی زمونږ ګناهونه بخښې او د هرې ناپاکۍ څخه مو پاکوي."
که پوهیږئ چې په ژوند کې مو ګناه شته، له عاجزۍ سره په هغه باندې اعتراف او توبه وکړئ.
یو وخت د دې کار دپاره وټاکئ. په یاد ولرئ چې مونږ ټول تېروتنه کوو، نو په اعتراف کولو خدای او نورو په وړاندې مه شرمیږئ.
له خدایه وغواړئ چې تاسو ته قدرت درکړي چې په خپلو ګناهونو باندې غلبه وکړئ. الهي بخښښ ومنئ او اعلان یې کړئ چې هغه ستاسو دی.

1. **خپل هویت په مسیح کې په یاد راوړئ**

رومیان ۸: ۱ وایي:"نو اوس د هغو کسان دپاره چې په مسیح کې دي، نور هېڅ محکومیت نشته."
تل دا واقیعت له ځان سره په یاد ولرئ: خدای تاسو ژغورلي یې او تاسو د هغه ګران اولاد یئ.
کله چې له مونږ تېروتنه کیږي، اسماني پلار مونږ نه محکوموي، که د هغه په وړاندې په خپلو ګناهونو باندې اعتراف وکړو، هغه زمونږ ګناه بخښي او بیا مونږ پاکوي.
په ړنا کې پاتې کېدل او د خدای د اولاد په توګه د خپل موقف څخه خوند اخیستل خوښي، سوله، برکت او امنیت دی.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

1. پورتني ګامونه هره ورځ تکرار کړئ.
2. دا ایتونه ولولئ او په چوپتیا کې بر هغه غور وکړئ.
    - متلونه ۲۸: ۱۳
    - زبور ۳۲: ۵
3. یو بل ته لنډ پیغام ولېږئ او شریک یې کړئ چې څنګه مو د هفتې په اوږدو کې دا ګامونه واخیستل او خدای څنګه په دې لاره کې ستاسو سره مرسته وکړه.
4. له خدایه وغواړئ چې مرسته درسره وکړي ترڅو په دوامداره توګه په ړنا کې لاړ شئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved